مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۳/۱۲

# وخت او زما زړه

**وخت په چټکه او په تنده روان**

**خو زما زړه لړ ورو، لړ ستړی او غمجن ورپسي**

**وخت خو روان دی پرمخ**

**او نه راګوري شاته**

**درومي بس درومي، مخ پر وړاندې درومي**

**داسي روان دی چي سهار او ماښام نه پیژني**

**د تور او سپین توپیر هم نه شته ورته**

**د ژوند قاموس کي یې ستړیا نه شته، دمه هم نه شته**

**بس په متیـنو قدمونو مخ پر وړاندې دورمي**

**خو زما زړه دا دی لړ ستړی ښکاري**

**او غواړي دمه وکړي**

**خو دمه ځای پیدا کولای نه شي**

**دغه وطن، دا چاپیریال او دغه خلک ټول، ټول**

**ورته پردي او لیوني ښکاریږي**

۲۰۱۱/۰۶/۱۶
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ